خزانه

یوه سړي یو وخت خوب ولید چې په [یوه ځانګړي ښارکې] تر یوه پله لاندې یوه لویه خزانه ده. نو هغه [هلته] لاړ، او له پله سره نژدې ودرېد، او هڅه یې کوله چې څرګنده کړي چې څه وکړي. هغه نشوای کولی چې خزانه د ورځې له مخې ولټوي ځکه چې هلته نورو خلکو په منظمه توګه تګ راتګ کاوه.

یو پولیس چې له هغه ځایه تېرېده تري پوښتنه وکړه، «ته څه کوې چې دلته ولاړ یې او فکر کوې؟» سړي پرېکړه وکړه چې دا به ترټولو ښه وي چې هغه ته ټوله کیسه ووایي، د هغه مرسته ترلاسه کړي، او بیا هغوی خزانه سره شریکه کړي. هغه پولیس ته ټوله کیسه وکړه. پولیس ځواب ورکړ، «[تاسو خلک] یوازې خوبونو ته اهمیت ورکوئ! ما هم یو خوب لیدلی وه، او ما هم یوه خزانه ولیده. هغه په [داسې او داسې یوه ځای] کې وه.»

د هغه د خوب په اړه، پولیس د سړي د ښار نوم او د سړي نوم ذکر کړل، او داسې یې پای ته ورسوله، «په خوب کې هلته په تلخونه کې یوه خزانه وه، خو ته فکر کوې چې [زه دومره کم عقل یم] چې هلته دې سفر وکړم؟»

نو سړی بېرته کور ته ستون شو، خپله تلخونه یې وکیندله، او خزانه یې وموندله. هغه وویل، «اوس زه پوهېږم چې ما لا له پخوا نه خزانه لرله، خو د دې له پاره چې ویې مومم، ما باید سفر کړی وای...»